Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستـــان اقتصـادي پــرمختګ

# خبرپاڼه

دریيم کال - ۲۷مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۹مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۸/۷



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتيو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د شاوخــوا پنځه میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۷ پروژې منظورې شوې

۲-پــه کنــدز کــې د ۲۰ میلیــون ډالــرو په پانګونــې د ســرو زرو کان د استخــراج چــارې پیل شـــوې



# د شاوخوا پنځه میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۷ پروژې منظورې شوې

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي پراختيا، د زيربناوو د پياوړتيا او د عامه پروژو د اغېزناک تطبيق په موخه د پراختيايي پروژو د پلي کېدو بهير ته دوام ورکوي. په همدې لړ کې، د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه، د ۱۴۰۵ کال د عقرب مياشتې په درېيمه نېټه، په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. په دې غونډه کې ۲۹ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له هراړخيز بحث وروسته د شاوخوا پنځه ميلياړده افغانيو په ارزښت ۱۷ پروژې منظورې شوې او په پنځو نورو پروژو کې لازم تعديلونه تصويب شول. همداراز، د څلورو پروژو په اړه ټاکل شويو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو د پروژو د قيمتونو په اړه له ګټونکو او په شرايطو برابرو شرکتونو سره مذاکره وکړي او خپل راپور د تدارکاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي. د منظور شويو پروژو له ډلې، د افغانستان برېښنا شرکت شپږ پروژې د دوه ميلياړده او ۸۷۳ ميليونه افغانيو په ارزښت منظورې شوې دي. په دغو پروژو کې د ننګرهار ولايت د حصارشاهي سبسټېشن د ۲۲۰ کيلوولټ لين د پراختيا، د جوزجان ولايت د يتيم تاق د ګازو فابريکې د انرژۍ لېږد لپاره د ۴۰ مېګاولټ امپيره سبسټېشن د جوړولو او د فارياب ولايت د ميمنې او اندخوی سبسټېشنونو د جوړولو او پراختيا چارې شاملې دي. همداراز، له اندخوی سبسټېشن څخه تر ميمنې سبسټېشن پورې د ۱۳۹.۲ کيلومتره په اوږدوالي د ۲۲۰ کيلوولټ لين غځول، د SDH او PABX سيسټمونو لپاره د تجهيزاتو پېرل او د ارغندی- غزني له ۲۲۰ کيلوولټ انتقالي لين څخه د ميدان وردګو تر پلان شوي سبسټېشن پورې د ۹.۳ کيلومتره لين غځول هم د منظور شويو پروژو په ډله کې دي. د دغو پروژو پلي کېدل د برېښنا د لېږد او وېش د شبکې په پياوړتيا، د انرژۍ د لېږد د ظرفيت په لوړولو او د صنعتي او توليدي فعاليتونو لپاره د برېښنايي زيربناوو په پراختيا کې مهم رول لرلای شي.



## په کندز کې د ۲۰ میلیون ډالرو په پانګونې د سرو زرو کان د استخراج چارې پیل شوې

په هېواد کې د کانونو د استخراج په برخه کې پانګونه د کورنیو طبیعي سرچینو د اقتصادي ارزښت لوړولو، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره مهم ظرفیت لري. په همدې لړ کې، د کندز ولایت په قلعه‌ذال ولسوالی کې د سرو زرو د یوه کان د استخراج چارې د ۲۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره پیل شوې دي. د معلوماتو له مخې، د دغه کان د استخراج تړون د پنځو کلونو لپاره شوی. د کانونو او پټرولیم وزارت د ځایي مسوولینو په وینا، د کان په شاوخوا شپږ کیلومتره ساحه کې د استخراج چارې پیل شوې دي. د کان اروندو سړکونو د جوړولو لپاره ۲۰۰ زره ډالر ځانګړي شوي او تمه ده چې د پروژې له لارې شاوخوا ۴۰۰ هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي. د کان د استخراج ترڅنګ، د سړکونو جوړول هم د پروژې له مهمو برخو څخه دي، ځکه مناسب ترانسپورتي تاسیسات د کانونو د استخراج، د تجهیزاتو د لېږد او د تولیداتو د انتقال په بهیر کې اسانتیاوې رامنځته کوي. همداراز، د پروژې له لارې د کار فرصتونو رامنځته کېدل کولای شي د سیمې د خلکو د عاید په لوړولو او د اقتصادي فعالیتونو په پراختیا کې ونډه ولري. اسلامي امارت د هېواد د کانونو د مسوولانه او اصولي استخراج ترڅنګ، د قراردادونو شفاف تطبیق او د چاپېریالي معیارونو رعایت ته ژمن دی، ځکه دا د هېواد د طبیعي سرچینو اغېزناکې او دوامداره استفادې او پانګونې لپاره مهم دي.